SBS

# Media Release

5 October 2021




## س بي اس د ټولنې نظر غواړي ترڅو د اس بي اس راډيو او ژبې خدمتونو په جوړښت کې ورسره مرسته وکړي

اس بي اس د ژمنې د يوې برخې په توګه ترڅو پرمختګ ته دوام ورکړل شي او د معاصرې آسټراليا اړتياوې پوره شي، د خپلې ژبې خدمتونو منظمه بيا کتنه پيل کړې ده، نن د عامه مشورې لړۍ پيلوي او له خلکو غوښتنه کوي ترڅو د مسودې انتخابي معيارونو په اړه نظر شريک کړي.

د اس بي اس د ژبې خدمتونو د بياکتنې پروسه په هرو پنځو کلونو کې د آسټراليا له ملي سرشمېرنې سره سم ترسره کېږي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د آسټراليا ګړندۍ وده کوونکې او متنوع ټولنه منعکس کړي. د انتخاب معيارونو او د ۲۰۲۱ کال سرشمېرنې سره به هغه ژبې معلومې شي چې خدمات په کې وړاندې کېږي او مرسته به وکړي چې دا خدمات په راتلونکو پنځو کلونو کېڅرنګه وړاندې کېږي.

د ژبې خدمتونو په بيا کتنه د اس بي اس د ژبې او غږيزو خدمتونو، اس بي اس آن ډيمانډ، پوډکاسټونه او نور ډيجيټلي پلېټ فارمونونه بيا کتنه شامله ده.

د شپږو اوونيو عامه مشوره چې نن پيل کېږي او د روان ۲۰۲۱ کال په نومبر مياشت کې پای ته رسېږي، ټولنو ته يو فرصت دی ترڅو د اس بي اس خدماتو راتلونکې کې ګډون ولري او له ټولو مشورو څخه د وروستيو انتخابونو لپاره کار اخيستل کېږي.

د اس بي اس د ژبې او غږيزو خدماتو د برخې مشر، ډيوډ هو، وايي: " اس بي اس يوه ځانګړې ورتيا لري ترڅو له بېلابېلو لارو، د مختلفو خدمتونو پر مټ د آسټراليا بېلابېلو ټولنو ته ورسېږي او ورسره وصل شي. له څه باندې ۴۵ کلونو راهيسې موږ ټولنو ته د نوښتګرو او معنی لرونکو خدماتو وړاندې کولو ته دوام ورکوو او نن ورځ موږ دغه کار له ۶۰ په زياتو ژبو د راډيو، آنلاين، پوډکاسټ او اپليکشنونو له لارې کوو. دا بيا کتنه به د ۵۰ کليزې په را رسېدو د اس بی اس په جوړښت کې مرسته وکړي"

"د اس بي اس د مختلفو ژبو خدمتونو د کووېډ-۱۹ د وبا پرمهال ټولنو ته د دوي د خوښې په ژبه د مهمو او روغتيايي معلوماتو په وړاندې کولو سره حياتي رول ولوبه و. د ژبې خدمتونو بيا کتنه يو فرصت دی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې موږ نن ورځ په آسټراليا کې د ټولنو اړتياو منعکس کولو ته دوام ورکوو."

" په دوامداره توګه د ژبې خدمتونو تازه کول، اس بي اس ته وړتيا ورکوي ترڅو د مختلفو ژبو او فرهنګونو لويو ټولنو ته غوره خدمت وړاندې شي، همدا راز نويو او ډېرو اړتيا لرونکو ټولنو ته خدمتونه وړاندې شي. پدې پروسه کې زموږ ليدونکو ته غږ ورکول يو مهم عنصر دی ، او موږ په آسټراليا کې ټولنې هڅوو چې خپل نظر شريک کړي"

د انتخاب معيارونه بايد د ۲۰۲۲ کال تر مي مياشتې پورې نهايي شي ترڅو د اس بي اس د ژبې له بيا کتنې وروسته خدمتونه، د ۲۰۲۲ کال په پای کې عملي شي.

د انتخابي معيارونو لپاره د عامه مشورې لړۍ د ۲۰۲۱ کال د اکټوبر له ۵ نېټې څخه د نومبر تر ۱۲ پورې دوام کوي. د انتخاب د مسودې د ليدلو او خپل نظر شريکولو لپاره له sbs.com.au/consultation څخه ليدنه وکړئ.

**Special Broadcasting Service**
14 Herbert Street, Artarmon NSW 2064 Australia sbs.com.au

پای.

د نورو معلوماتو او مرکې لپاره اړیکه ونیسئ:
کېټ وارنک |135 316 0419 | kate.warnock@sbs.com.au